U.S. Department of Justice
Civil Rights Division

Immigrant and Employee Rights Section

justice.gov/ie

د کارګرمعلوماتی پاڼه

# امریکا متحده ایالاتو کې د افغانانو لپاره د ګومارنې معلومات

**په امریکا متحده ایالاتو کې ژوند او کار کوونکي افغانان ممکن د تابعیت یا مهاجرت بېلابېل وضعیتونه ولري.دغه معلوماتی پاڼه د مهاجرت د ځینو دغو وضعیتونو لپاره د ګومارنې او کار حقونو په اړه عمومي معلومات وړاندې کوي.**

په دغو صورتونو کې مهاجر او کارکونکی حقونو برخې (Immigrant and Employee Rights Section) ته زنګ ووهئ

- که تاسي فکر کوئ چې کوم کارګومارونکی تاسي له دې امله نه ګومارو چې له کوم هیواد څخه یئ یا ستاسي د تابعیت یا د مهاجرت وضعیت څه دی.
- که تاسي ډاډه نه یئ چې په امریکا متحده ایالاتو کې د کار لپاره کوم اسناد ښودلی شئ.
- که کوم ګومارونکی ستاسو هغه اسناد رد کړي چېډ منلو وړ دي.

زموږ د دفتر لخوا توله مرسته وړیا ده او کله چې تاسي زنګ ووهئ موږ د ژبې وړیا خدمتونه وړاندې کوو.

## په دغه سند کې څه دي

- **د دندو لپاره غوښتنه کولو پرمهال محافظتونه**
- **یوه کارګومارونکي ته خپل کار کولو جواز ښودلو پرمهال محافظتونه**
- **د هغو افغانانو لپاره معلومات چې د کډوالی بشردوستانه پارولي یا مشروط حالت ورکړل شوی دی**
- **د قانوني دایمي افغان اوسیدونکو، په شمول د ځانګړي مهاجرت ویزه لرونکو لپاره معلومات**

## اړیکه ونیسی

د دې معلوماتی پاڼې په اړه د معلوماتو لپاره، د مدني حقونو څانګې (Civil Rights Division) د مهاجر او کارکونکی حقونو برخې

**(Immigrant and Employee Rights Section)**

سره په دې شمیره اړیکه ونیسئ

**1-800-255-7688**

## د دندو لپاره غوښتنه کولو پرمهال محافظتونه

که یو ګومارونکی ستاسي د تابعیت یا مهاجرت وضعیت له امله ستاسي په دنده ګومارل رد کړي حتی که څه هم تاسي د کار جواز ولرئ، هغه په **8 U.S.C. § 1324b** کي موجود د مهاجرت او ملیت قانون (Immigration and Nationality Act) څخه سرغړونه کوي. **د تابعیت او مهاجرت وضعیت تبعیض په اړه معلومات** د Civil Rights Division ویب سایټ کي وګورئ.

که چیري یو کارګومارونکی له دي امله ستاسي په دنده ګومارل رد کړي چي تاسي د افغانستان څخه یي نو هغه دکړوالی یا ملیت یا Immigration and Nationality Act او یا نورو قوانینو څخه سرغړونه کوي. د مساوي ګومارني فرصت کمیسیون (Equal Employment Opportunity Commission) ویب سایټ د **ملیتي تبعیض** په اړه معلومات لري.

نور قوانین هم ممکن د ګومارني د تبعیض نورو ډولونو پروړاندي ستاسي محافظت وکړي.

## یوه کارګومارونکي ته خپل د کار کولو جواز ښودلو پرمهال محافظتونه

کله چي تاسي یوه نوي دنده ترلاسه کړئ، ستاسي کارګومارونکی تاسي ته د **Form I-9** درکوي. ستاسي کارګومارونکی به له تاسي وغواړي چي د فورمي اوله ډکه کړئ، چي د Section 1 په نوم یادیږي. د Form I-9 موخه ستاسي ګومارونکي لپاره دا ده چي ستاسي هویت او د امریکا متحده ایالاتو کي ستاسي د کار کولو اجازه وګوري. تاسي خپل کارګومارونکي ته د اسنادو وړاندي کولو په واسطه خپل هویت او د کار کولو اجازه ورښیئ.

- تاسي د **Lists of Acceptable Documents (منلو وړ اسنادو لیستونو څخه)** چي ستاسي کارګومارونکی یي د Form I-9 سره تاسي ته درکوي انتخاب کوئ چي کوم اسناد د Form I-9 لپاره وښیوئ. کارګومارونکي نشي کولی تاسي ته ووایی چي کوم اسناد وښیوئ.
- کوم کارګومارونکی چي ستاسي د تابعیت، مهاجرت وضعیت، یا ملي اصل پربنسټ تاسي سره توپیري چلند کوي هغه ستاسي د حقونو څخه سرغړونه کوي.
- د Form I-9 پروسي په اړه د **I-9 Central** او **Handbook for Employers (M-274) (د کارګومارونکو لپاره جزوي)** د USCIS کي نور معلومات وګورئ.
- که تاسي د خپل ټولنیز مصونیتنمبر ترلاسه کولو ته انتظار کوئ، تاسي کولی شئ کار پیل کړئ که چیري تاسي د کار کولو اجازه او د Form I-9 لپاره اسناد لرئ. **داخلي عوایدو خدمت** (Internal Revenue Service)، **ټولنیز مصونیت اداري** (Social Security Administration) **کورنیو چارو وزارت** (Department of Homeland Security) پدي اړه معلومات وړاندي کړي دي چي ګومارونکي څنګه کولی شي هغه افراد وګوماري او تادیه ورته وکړي څوک چي خپل د ټولنیز مصونیتنمبرته انتظار دي کوي.

## د هغو افغانانو لپاره معلومات چي بشردوستانه پارولي ورکړل شوی دی

هغه کارګران چي د متحدینو د پناه عملیاتو (Operation Allies Refuge, OAR) او د متحدینو د هرکلي عملیاتو (Operation Allies Welcome, OAW) له لارې ورته پارولي ورکړل شوی دی کولی شي د هغوی پارولي کي ټاکل شوي مودې لپاره د امریکا متحده ایالاتو کي ژوند او کار وکړي. تاسي کولی شئ نور

معلومات، په شمول د بیاځل پارولي لپاره غوښتنه کولو په اړه معلومات د **USCIS ویب سایټ** کې ومومئ.

- که تاسي ته د OAR یا د OAW له لارې پارولي درکړل شوی وي، د Form I-9 Section 1 کې “A noncitizen authorized to work” (د کار جواز لرونکی غیرتبعه) انتخاب کړئ او خپل د کار جواز د انقضاء نیټه ولیکئ.
- د هغو اسنادو ځیني مثالونو کې دا لاندې موارد شامل دي کوم چې تاسي شاید د Form I-9 لپاره وښیئ :
  - د ګومارني د جواز سند (Employment Authorization Document, EAD)، کوم چې ستاسي هویت او د کار کولو اجازه ثابتوي. د ځیني افغان پیرول لرونکو EADs ممکن د هغوی د EAD نیټي منقضی کیدو وروسته غزول شوي وي. پدې صورت کې تاسي یوه خبرتیا ترلاسه کوئ (I-797C بلل کیږي) چې تاسي کولی شئ خپل EAD وښیوئ ترڅو ثابت کړئ چې ستاسي EAD غزول شوې. تاسي کولی شئ نور معلومات دي د **USCIS لارښود** کې ترلاسه کړئ.
  - که تاسي د Form I-9 لپاره EAD وړاندې کړئ، تاسي اړ یي ستاسي د EAD نیټي منقضی کیدو په وخت کې داسي اسناد وړاندې کړئ چې ستاسي د کار دوامداره جواز ښئ، په شمولد EAD د مودې غزیدل. **پدې** صورت کې، تاسي انتخابوئ چې کوم د **منلو وړ سند** وړاندې کړئ. تاسي اړ نه یي هماغه ورته ډول سند وښیئ کوم چې تاسي ستاسي د ګومارل کیدو پرمهال ښودلی و.
  - د Form I-94 غیرمنقضی د "PAR" منلو ټولګي سره (که د تابعیت هیواد افغانستان وي) یا د "OAR" منلو ټولګی دا I-94s "رسید" دی چې هم ستاسي هویت او هم د کار کولو اجازه ښئ. دا د هغه ورځې څخه چې تاسي کار پیل کړئ د 90 ورځو لپاره اعتبار لري، یا د بیرته تایید په صورت کې، د هغه نیټي څخه چې ستاسي زوړ سند پکي منقضی شوی وي. د 90 ورځو په پای کې، تاسي باید خپل کارګومارونکي ته یا یو EAD یا د List B سند او د غیرمحدود ټولنیز مصونیت کارت ټولګه وښیوئ.

**د قانوني دایمي افغان اوسیدونکو، په شمول د ځانګړي مهاجرت ویزه لرونکو لپاره معلومات**

د امریکا متحده ایالاتو کې ځیني افغانان د ځانګړي مهاجرت ویزې پربنسټ د امریکا متحده ایالاتو کې قانوني دایمي استوګنه لري. لکه د نورو دایمي اوسیدونکو په څیر، هغوی کولی شي د قانوني دایمي اوسیدونکي په حیث د خپل وضعیت پربنسټ د امریکا متحده ایالاتو کې دایمي ژوند او کار وکړي.

- که تاسي قانوني دایمي اوسیدونکی یې د Form I-9 Section 1 کې “Lawful Permanent Resident” (قانوني دایمي اوسیدونکی) انتخاب کړئ.
- د **I-9 Central** USCIS ویب سایټ او د **Handbook for Employers (M-274) (د کارګومارونکو لپاره جزوې)** د منلو وړ اسنادو په اړه غربیري چې

قانوني دايمي اوسيدونکي يې ترلاسه کولی شي، په شمول د:

- ○ ايالت آی ډی/د ډرايورۍ لايسنس
- ○ غیرمحدود د ټولنيز مصونيت کارت
- ○ بهرنۍ پاسپورټ د I-551 مهر يا د **ماشين لوست وړ مهاجرت ويزې** (Machine Readable Immigrant Visa, MRIV) سره
- ○ د عکس او د I-551 مهر سره I-94
- ○ د دايمي اوسيدو کارت يا "ګرين کارت"

- د Form I-9 ډکولو وروسته، عموماً کارګومارونکی نه شي کولی له تاسي بياځل ستاسي د کار اجازه ثابتولو لپاره د سند ښودلو غوښتنه وکړي. په دي کي يوه استثنا موجود ده چي که چيرې ستاسي سند کي اړتيا وي چي کارګومارونکی يي بياځل چک کړي، لکه بهرنۍ پاسپورټ چي د I-551 مهر يا MRIV لري. کله چي کارګومارونکي د کار دا جواز بياځل چک کوي، تاسي کولی شئ د **خپل د منلو وړ سند ورته وښيوئ.** تاسي اړ نه يي هماغه ورته ډول سند وښيئ کوم چي تاسي ستاسي د ګومارل کيدو پرمهال ښودلی و.
- ګومارونکي **اجازه نه لري** د کار کولو جواز بياځل چيک کړي کله چي د دايمي اوسيدونکي کارت نيټه منقضی کيږي.

د مهاجر او کارکونکی د حقونو برخي (Immigrant and Employee Rights Section, IER) نورې سرچيني

- **د پناه ورکړل شوي مهاجرينو او کارګرانو لپاره معلومات**
- **د لنډمهاله محافظت وضعيت لرونکي کارګرانو لپاره معلومات**
- **په Form I-9 او د E-Verify پروسو کي د تبعيض مخنيوي څرنګوالي په اړه د کارګومارونکو لپاره معلومات**

د امريکا متحده ايالاتو د تابعيت او مهاجرت خدمتونو (U.S. Citizenship and Immigration Services, USCIS) سرچيني

- **د افغانانو لپاره معلومات**
- **د ځيني افغانانو لپاره د بياځل پارولي پروسه**
- **د افغان کاري ځواک ملاتړ لپاره يو چټک لاربنود**

*د 2023 اګست کي اپډيت شوی*

## اړيکه ونيسئ

## Civil Rights Division, Immigrant and Employee Rights Section (IER)

- **د کارګرانو هاټلاين ته په زنګ ووهئ 1-800-255-7688**
- **د اوريدو معيوبيت لرونکي خلکو لپاره 1-800-237-2515**
- زنګونه په بې نومي توګه وهلی شئ.
- د ژبې ورړيا خدمتونه شته.
- د نورو معلوماتو لپاره، دلته ورشئ **justice.gov/ier**